پښتو

# دګناه پیژندګلو



پیشکش:
مجلس المدینة العلمیه (دعوت اسلامی)
ترجمه:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوت اسلامی)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ،
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

# د ګناه پيژندګلو

## د دُرُود شريف فضيلت

**د آخري نبي** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک:** د قيامت په ورځ به د الله پاک د عرش د سوري نه علاوه بَل سورے نه وي، درې ګسان به د الله پاک د عرش د سوري د لاندې وي- عرض اوکړے شو: يَا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! هغه به کوم خلق وي؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: ﴿1﴾ هغه ګس کوم چې زما د اُمّتي پريشاني ختمه کړي ﴿2﴾ زما سُنَّت ژوندي کولو والا ﴿3﴾ په ما باندې ډير زيات دُرُود شريف لوستلو والا-

(البدور السافره، ص 131، حديث: 366)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب      صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**سوال:** په خطا باندې د ګناه اطلاق کله کيږي؟ آيا په شريعت کښې په هيره باندې هم ګناه وی؟ مثلاً: د روژې نيولو په حالت کښ

ې که چرې په غلطئ او هيره سره خوړل، څکل اوکړې، يا د لمونځ د وخت د تيريدو نه وروستو لمونځ راياد شو، نو د دې به څه حکم وي؟

**جواب:** که روژه نيوونکي ته چرې روژه ياده نه وي او خوړل، څکل اوکړې، نو په دې حال کښې روژه نه ماتيږي، تر دې پورې که دا ګناه وي او که چرې روژه ياده وي، خو خُلې ته د اوبو اچولو په وخت په غلطئ کښې اوبه حلق ته لاړلې، نو په دې حالت کښې خو به روژه ماته شي، خو په دې حالت کښې ګناه نشته، البته د روژو قضا لازمي دی- دا معامله د لمونځ ده، که چرې يو ګس ته لمونځ کول ياد نه وي، يا اوده پاتې شو او د لمونځ وخت تير شو نو کله چې ورته راياد شي بيا دې اوکړي چې اوس قضا راوړل په ذمه باندې فرض دي- البته په دې حالت کښې به په لمونځ قضا کولو ګناه نه وي- د دوارو جهانونو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: يعني کوم ګس چې لمونځ هير کړي يا د لمونځ په وخت کښې اوده پاتې شي، نو کله چې هغه ته راياد شي هغه وخت دې لمونځ اوکړي چې دغه د دې وخت دے- (1)

په دې حديث مبارک کښې د اوده شوي ګس صِرف د خوب په وجه لمونځ پاتې شو او قصداً د نه کولو صورت بيا نه موندلے شو، نو اووئيلے

---

[1]... ابن ماجہ، کتاب الصلاۃ، باب من نام عن الصلاۃ او نسیہا،ص227،حدیث695

شول چې د ده به د لمونځ په پرېښودو ګناه نه کیږي، دغه شان که چرې لمونځ کول ئې هیر کړل تر دې پورې چې د لمونځ وخت هم تیر شو، نو اوس هم ګناه نشته، خو د لمونځ قضا به بهر صورت لازمي وي۔

## د زړه نه د زنګ لرې کولو 4 طریقې

**سوال:** که چرې زړه د ګناهونو په وجه زنګ اونیسي، مَړ او تور شي، نو د دې زنګ، تور والي او د زړه د مَړ کیدلو لرې کولو څه طریقې دي؟

**جواب:** د زړه نه د زنګ لرې کولو د ټولو نه لویه او ښه ذریعه د الله عَزَّوَجَلَّ او د هغه د رسولِ کریم صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **محبت** او د الله عَزَّ وَ جَلَّ ویره ده، دا هغه عظیم خیزونه دي، د کومو په ذریعه چې د زړه نه زنګ لرې کیږي، اوس پاتې شوه دا خبره چې "د **محبتِ رسول** صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم" هغه کوم یو اړخ دے په کوم چې د زړه نه زنګ لرې کیږي؟ او د الله پاک د ویرې د کوم یو حالت په ذریعه د زړه نه خیرے لرې کیدے شي؟ نو یاد ساتئ چې د محبت اصلي مفهوم "**د زړه مائل توب، د زړه د خوښې خیز طرف ته مائل کیدل دي۔**" بیا د الله پاک نه د ویرې او د محبتِ مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په برکت چې کله په لاندې ورکړے شوؤ عملونو باندې استقامت نصیب شي، نو د زړونو نه زنګ لرې کیږي، هغه عملونه دا دي:

## (1): د قرآنِ مجيد تلاوت:

که د قرآنِ پاک تلاوت په تَدَبُّر يعني د غور وفکر سره وي، د پوهيدلو سره او د ظاهري او باطني آدابو سره تلاوت اوکړے شي- دلته د آدابو نه مراد د شرعي حکمونو سره د هغې د مستحباتو خيال ساتل دي، لکه د تلاوت کولو په وخت چې پوره پام قرآنِ پاک ته وي، قاري د الله پاک د کلام د خيال سره او داسې لولي لکه څنګه چې د الله عَزَّوَجَلَّ سره خبرې کوي او هغه محسوس کړي چې د قرآنِ پاک نورانيت د هغه زړه ته ننوځي او قرآنِ مجيد د هغه زنګ لرې کوي- که چرې يو کَس قرآنِ کريم د دې ښائسته خيالونو او پوهې سره لولي، نو اِنْ شَآءَ الله د هغه د زړه نه به زنګ ډير په تادئ سره لرې کيږي-

## (2): د الله پاک ذِکر:

دغه شان که چرې د الله عَزَّوَجَلَّ ذِکر، د فکر او توجو سره وي او بے توجهي او غفلت اونکړے شي، بلکه خاص د الله پاک په بارګاه کښې حاضري په زړه او دماغو کښې کيښودلے شي او د الله پاک ذِکر اوکړے شي، د الله پاک د ذِکر کلمات لکه

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، سُبۡحَانَ اللّٰهِ وَاللّٰهُ اَکۡبَر، وَلَا حَوۡلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ، سُبۡحَانَ رَبِّیَ الۡعَظِيۡم، سُبۡحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمۡدِهٖ سُبۡحَانَ اللّٰهِ الۡعَظِيۡم

دا او د دې په شان نور چې خومره هم ذِکرونه دي د دې په ذريعه الله پاک ياد کړے شي، داسې ذِکر اوکړے شي او د الله پاک نعمتونه ياد کړے شي، نو د داسې ذِکر په برکت سره د زړه نورانيت په تيزئ سره زياتيږي۔

## (3): مَرګ يادول:

مَرګ، قبر او آخِرت دا درې واړه هغه څيزونه دي، کوم چې د زړه د تور والي په لرې کولو کښې ډير مرستندويه دي۔ چې انسان مَرګ يادوي نو د هغه زړه نرميږي۔ چې هغه قبرونو ته ګوري او د نورو مرګ ته پام کوي نو هغه ته خپل قبر وريادېږي۔ هغه چې قبر ته تلل او د خپل بَدن خرابيدل يادوي، نو د هغه زړه نرميږي۔ هغه چې د آخِرت معاملې، د الله پاک په بارګاه کښې وړاندې کيدل او د حاضِرئ تصور کوي، د عمل نامې ورکول، د قيامت ګرمي، د حشر تنده او د پلِ صراط نه تيريدل يادوي، نو د هغه د زړه نه د دنيا محبت، د ګناهونو مزه او د خواهشونو زياتوالے اووځي او هغه ته د زړه د تيَرې نه خلاصے ميلاويږي۔ دې ته "شرحِ صدر" هم وئيلے شي، په حديثِ پاک کښې دي، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: يعني نُور چې کله سينې ته ننوځي، نو سينه برسيره شي، نو عرض اوکړے شو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! آيا د دې څه نخښه ده په کومه چې نُور اوپيژندلے شي؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: آؤ د دهوکې د ځائے (دنيا) نه لرې

پاتې کیدل، د همیشه کور (آخرت) طرف ته رجوع کول او د مرګ د راتللو نه مخکښې د هغې تیاري کول-[2]

## (4): د صالحینو صحبت:

ښه صحبت [ناسته پاسته] د زړه د زنګ لرې کولو د پاره عملي طور د ټولو نه زیات اثر لري- بعضې وخت یوه ښه ناسته د انسان د ټول عمر زنګ لرې کړي،لکه زمونږ په مخکښې لړ نه، بلکه په سوؤنو داسې واقعات دي چې د چا نیک انسان سره د کښیناستلو یا د هغه سره د یو سفر کولو سره ئې د زړه دنیا بدله شوله او د سُنَّت او د شریعت د اِتّباع توفیق ئې نصیب شو- په ژوند کښې دومره غټ بدلون په حقیقت کښې د زړه نه د زنګ د صفا کیدو په وجه دے چې کله د زړه نه تور والے لرې شي نو په زړه کښې داسې نرمي، ښکلا، ځلا او نُور پیدا شي چې انسان فوراً متوجّه اِلَّي الله یعني د الله پاک طرف ته متوجه شي او د نیکو په لاره باندې روان شي- د نیکانو د صحبت په برکت انسان ته د الله پاک ویره، د الله پاک محبت او د مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عشق نصیب شي، د قرآنِ پاک د تلاوت کولو توفیق میلاویږي او په ذِکر او دُرُود کښې د مشغولتیا شوق پیدا کیږي- د مرګ او د قبر او آخِرت یاد هم نصیب کیږي- الغرض که

[2] ...شعب الایمان، باب فی الزهد و قصر الامل، 352/7، حدیث10552

چرې زیات پام ښه صحبت حاصلولو ته اوکړے شي، نو د بره درج ټولو خیزونو حاصلول ډیر آسان شي- ښه صحبتونه [ناستې پاستې] هسې خو هم کمې دي، خو د مینځه تلې نه دي، په رښتوني طلب سره د کوشش کوونکو اوس هم ښه صحبت نصیب کیږي- که چرې د یو ګس ځانله نزدې والے نصیب هم نه شي نو بیا هم د یو اجتماعي نیک ماحول ضرور شته، لکه د دعوتِ اسلامي هفته وار اجتماعات او مدني قافِلې- که چرې یو ګس دا اختیار کړي، په الله پاک ډیر ښه ګمان دے چې هغه ته د نیک صحبت برکتونه عطا کړي-

## د ګناه د پیژندلو طریقه

**سوال:** د ګناه د پیژندلو څه طریقه ده، د کومې د خپلولو سره چې د ګناهونو نه بچ کیدے شي؟

**جواب:** د ګناه د پیژندلو د ټولو نه وړومبۍ طریقه عِلم حاصلول دي، ځکه چې عِلم د ټولو نه لویه ذریعه ده د کوم په ذریعه چې به ګناه پیژندلے شي- د دې عِلم ډیر اړخونه دي، لکه که چرې د ګناه کبیره (یعني غټې ګناه) تعریف پوره طور په ذِهن کښې وي، نو انسان به په ډیرو چارو کښې د ګناه په حکم په فوري طور پوهه شي- دغه شان که چرې د ګناهِ صغیره (یعني وړې ګناه) تعریف که معلوم وي، نو د دې نه به د ډیرو

ګناهونو پته اولګي، لکه څنګه چې د فرضو پرېښودل ګناهِ کبيره ده، د واجب پرېښودل ګناهِ صغيره ده، خو که ګناهِ صغيره بيا بيا اوکړے شي، نو ګناهِ کبيره به جوړه شي- د سُنَّتِ مؤکّده په پرېښودلو باندې اصرار کول، لکه د ماسپخين ورومبي څلور رکعته سُنَّت نه کول، د ګناه حد ته داخلوي- بيا دغه شان په قرآن او حديثونو کښې هغه څيزونه کوم چې صراحتاً منع کړے شوي دي هغه ګناه ده، مثلاً: خپل ځانونه وژل او بدکاري کول، خپل اولاد وژل وغيره، هم دغه شان ارشاد اوفرمائيلے شو:

| | |
|---|---|
| وَلَا تَقْتُلُوْۤا اَنْفُسَكُمْ ؕ<br>(پ: 5، النسآء: 29) | ترجمه: او خپل ځانونه مه وژنئ- |
| وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنٰۤى<br>(پ: 15، بني اسرائيل: 32) | ترجمه: زنا ته مه نزدې کيږئ- |
| وَلَا تَقْتُلُوْۤا اَوْلَادَكُمْ<br>(پ: 8، الانعام: 151) | ترجمه: او خپل اولاد مه وژنئ- |

داسې هغه ټول آيتونه په کومو کښې چې خاص طور څه حکم يا منع کيدل بيان کړے شوي وي، د هغه [آيتونو] په لوستلو معلوميږي چې

فلانکے فلانکے کار نا جائزه او حرام دے مثلاً که چرې يو ګَس د قرآنِ پاک دا آيت مبارک لولي۔

| | |
|---|---|
| اِنَّ الَّذِيۡنَ يُحِبُّوۡنَ اَنۡ تَشِيۡعَ الۡفَاحِشَةُ فِي الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَهُمۡ عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ۙ فِي الدُّنۡيَا وَالۡاٰخِرَةِ ؕ وَاللّٰهُ يَعۡلَمُ وَاَنۡتُمۡ لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۹﴾ (پ 18، النور: 19) | **ترجمه:** بے شکه کوم خلق چې غواړي چې په مسلمانانو کښې د بے حيائيۍ خبره خوره شي د هغوئي د پاره په دنيا او آخِرت کښې دردناک عذاب دے او الله پوهيږي او تاسو نه پوهيږئ۔ |

دا آيت چې اولولي که واورې نو هغه ته به معلومه شي چې بے حيائي خپرول حرام کار دے، داسې به د بَل آيت لوستلو سره واضحه شي چې بے حيائي پخپله هم حرامه ده، ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَ يَنۡهٰى عَنِ الۡفَحۡشَآءِ وَ الۡمُنۡكَرِ وَ الۡبَغۡيِ ۚ (پ 14، النحل: 90) | **ترجمه:** او (الله) د بے حيائيۍ او د هر قِسمه بدې خبرې او ظلم نه منع فرمائي۔ |

هم دغه شان د لاندې آيت لوستلو نه به معلومه شي چې د يو يتيم مال په خپل تصرف کښې راوستل [يعنې پخپله استعمالول] څنګه دي؟ ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| اِنَّ الَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ الْيَتٰمٰى ظُلْمًا اِنَّمَا يَاْكُلُوْنَ فِيْ بُطُوْنِهِمْ نَارًا ؕ وَ سَيَصْلَوْنَ سَعِيْرًا ﴿۱۰﴾<br>(پ 4، النسآء:10) | **ترجمه:** بے شکه هغه خلق کوم چې د ظلم کولو سره د يتيمانانو مال خوري هغوئي بالکل خپلې ګېډې د اور نه ډَکوي او ډېر زر به دا خلق غرغندې وهونکي اور ته ځي- |

معلومه شوه چې د ګناهونو د پیژندلو د پاره عِلم ضروري دے، ځکه د عِلم د زياتوالي د پاره کلامِ پاک او حديثونه مبارک د پوهې او غور او فِکر سره لوستل، ديني کتابونه لوستل اهم او ګټه ور دي-

په قرآن او حديثونو کښې صراحتاً د ذِکر شوو ګناهونو نه علاوه علمائے کرامو د دين د عُلومو د پوهې او غور او فِکر په ذريعه هم ډېر ګناهونه بيان کړي دي، کوم چې صراحتاً په قرآن او حديثونو کښې ذِکر شوي نه دي، خو د هغې په رڼړا کښې معلومېږي چې دا هم جائز نه دي، لکه د ريا زيرېکوالے، اوس د ريا په باره کښې خو د قرآنِ پاک آيتونه دومره دي چې د ريا په ذريعه باندې خپل عملونه مه تباه کوئ:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تُبۡطِلُوۡا صَدَقٰتِكُمۡ بِالۡمَنِّ وَ الۡاَذٰىۙ كَالَّذِىۡ يُنۡفِقُ مَالَهٗ رِئَآءَ النَّاسِ (پ 3 البقرة:264) | ترجمه: اے ايمان والوو! د احسان ښودلو او تکليف رسولو سره خپلې صدقې مه بربادوئ، د هغه ګس په شان کوم چې خپل مال خلقو ته د ښودلو د پاره لګوي- |

يا نور آيتونه دي په کومو کښې چې د ريا په وجه د عمل تباه کيدو بيان دے، خو د ريا تفصيلات او مختلف صورتونه علمائے کرامو راويستي دي- د اکابرينو په دې نتيجو راويستلو باندې مشتمل يو کتاب "اَلزَّواجِر" په نوم د "جهنم ميں لے جانے والے اعمال" (مطبوعه مکتبة المدينه دعوتِ اسلامي) هم دے، دا کتاب په دې حوالې سره ډير زيات جامع دے-

خو يوه خبره دلته د توجو قابله ده چې معلومات لرل بيله خبره ده او د معلوماتو مطابق عمل کول بيله خبره ده، چاته پته نشته چې لمونځ فرض دے، يقيناً د لمونځ د فرض کيدو هر چاته پته وي خو ډير خلق په دې د پوهيدو باوجود لمونځ نه کوي- معلومه شوه چې صرف معلومات کافي نه وي د دې سره په زړه کښې جذبه، ترغيب او د عمل نيت هم ضروري دے، د دې نه بغير صرف کتابونه لوستل ګټه ور نه دي- داسې خلق ليدلے شي چې هغوئې پوره صِحاح سِتّه (د حديثونو مستند شپږ کتابونه) لوستلي وي، خو د دې باوجود پکښې د لمونځ څه جذبه نه وي، يا د نورو نيکو

عملونو طرف ته ئې هيڅ توجو نه وي يا ئې په نورو عملونو کښې کمے، بے خيالي موجوده وي، ځکه د عِلم سره عمل هم پکار دے او د عمل د پاره په زړه کښې ترغيب او ويره لرل ډېره ګټه وره خبره ده او د دې دواړو د حاصلولو دوه طريقې دي:

**وړومبئ طريقه:** خو دا ده چې صِرف حکمونه اونه لوستلے شي، بلکه د دې عمل فضيلتونه او وعيدونه هم اولوستے شي يعني د نيک عمل فضيلت او د بد عمل يعني ګناه وعيدونه اولولئ، د دې په برکت سره زړه زخمي کيږي او د عمل طرف ته مائله کيږي-

**دويمه طريقه:** ښه صحبت دے- ښه صحبت په زړه کښې د عمل جذبه پيدا کوي، ګنې صرف معلومات زياتره د عمل کولو د پاره کافي نه وي-

## د زړه اطمينان

**سوال:** د زړه د اطمينان او غير اطمينان د ګناه سره څه تعلق شته؟ يعني بعضې خلق څه غلط کار کوي او چې پوهه کوې ئې نو جواب ورکوي چې ما صحيح اوکړل، ځکه چې زما زړه مطمئين دے، زما په ضمير باندې هيڅ بوج نشته- آيا د زړه يا ضمير اطمينان د دې خبرې دليل دے چې کړے عمل ګناه نه ده، غلط نه دے، بد نه دے؟

**جواب:** د دې خبرې څه حقیقت هم شته او نشته هم- تفصیل دا دے چې د زړه د داسې کیفیت په باره کښې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: ''اَلْاِثْمُ مَاحَاكَ فِيْ نَفْسِكَ'' یعني ګناه هغه ده کومه چې ستاسو په زړه کښې ټک اوکړي-(3) یعني کومه چې په زړه کښې ټک اوکړي، ضمیر چې په څه باندې ملامت کړي، بد اوګڼړي هغه ګناه ده یا بده خبره ده- خو د دې حدیث سره بَل حدیث هم یاد ساتئ چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: '' اِذَا لَمْ تَسْتَحْيِ فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ''(4) ترجمه: ''چې کله په تاسو کښې شرم او حیا پاتې نه شي، نو بیا چې مو څه خوښه وي کوئ-'' مراد دا دے چې کله په انسان کښې شرم او حیا ختمه شي، نو بیا د هغه هیڅ پروا نه وي او د هغه زړه چې څه غواړي، هغه کوي- که چرې د چا دا کیفیت [حالت] دے چې د هغه شرم او حیا او د هغه لحاظ ختم شوے دے او هغه په جراءت، زړورتیا او بے د څه ویرې سره ګناهونه کوي او د هغې نه پس وائي چې زما ضمیر مطمئین دے، نو د داسې انسان ضمیر په هیڅ صورت د باور وړ نه دے، بلکه د داسې [انسان] ضمیر بے ضمیره ده، داسې ضمیر خو مَړ دے- د داسې کَس دا وئیل چې زما ضمیر مطمئین دے، په ده به هیڅ باور نشي کولے- دا خبره خو به په ډیرو ځیونو کښې ډاکو او

---

3...مسلم، کتاب البر والصلة، باب البر والاثم، ص:1061، حدیث:6517

4...بخاری، کتاب الادب، باب اذا لم تستحی فاصنع، 29/8، حدیث:6120

قاتل هم اوکړي او د هغوئي زړه به هم مطمئين وي، نو آيا د دې سره به معاذ الله قتل او ډاکه حلاله شي؟ هيڅکله هم نه- بلکه يو بَل حديثِ پاک هم دې لړ کښې ښکلې لار ښودنه کوي- د دوارو جهانونو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل چې: ''دَعْ مَايُرِيْبُكَ اِلٰى مَالَايُرِيْبُكَ'' يعني په کوم څيز کښې چې شک دے، هغه پريږده او هغه اختيار کړه په کوم کښې چې شک نشته- (5) يعني شک او شبې والا کار مه کوئ، لکه څنګه چې د يو کار په باره کښې شک وي چې پته نه لګي چې جائز دے که جائز نه دے، نو دا دې پريښودے شي او هغه صورت دې اختيار کړے شي، کوم چې بے شکه صحيح وي- په دې خبره باندې د سم پوهيدو د پاره لاندې تفصيل ياد ساتئ-

معامله دا ده چې بعضې حکمونه هغه دي د کومو چې شريعت واضحه طور حکم کړے دے، لکه څنګه چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: " اَلْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ وَبَيْنَهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ " يعني حلال هم بالکل واضحه دي او حرام هم بالکل واضحه دي، خو د دې ترمينځه بعضې شک والا چارې دي- (6) اوس دې د دې شک والا څيزونو په باره کښې څه اوکړے شي؟ نو اوفرمائيلے شو چې: ''فَمَنِ اتَّقَى الشُّبُهَاتِ فَقَدِ اسْتَبْرَءَ لِدِيْنِهِ وَ عِرْضِهِ '' (7)

---

[5]... ترمذی، کتاب صفة القيامه، باب-60، 232/4، حديث:2526

[6]... ابن ماجه، کتاب الفتن، باب الوقوف عند الشبهات، ص:1318

[7]... ابن ماجه، کتاب الفتن، باب الوقوف عند الشبهات، ص:1318

يعني خوک چې د شک والا کارونو نه بچ شو، هغه خپل دين او عزّت بچ کړو- نو د شريعت أُصول دا شو چې کوم په واضحه طور حلال دي، د کومو چې په قرآن او حديثونو کښې حلاليدل واضحه طور بيان شوي دي، د هغې په باره کښې د چا ضمير اووائي چې نه، دا کار صحيح نه ښکاري، نو دلته به د ضمير په وئيلو باندې عمل نه کيږي، ځکه چې کله دا دين په واضحه طور باندې حلال کړل، نو اوس هلته د ضمير هيڅ کار پاتې نه شو- آؤ د څه خارجي حِکمت په وجه مباح وغيره پريښودل يوه بيله معامله ده-

داسې کومو څيزونو ته چې شريعت واضحه طور حرام اووئيل، نا جائزه اووئيل، ګناه ئې اووئيله، هغه ناجائزه او ګناه ده او د هغې پريښودل ضروري دي، که چرې په داسې ځائے کښې ضمير اووائي چې دا کار اوکړه، هيڅ خبره نه ده، نو هلته به هم د ضمير نه منلے کيږي او ضمير صاحب به چرته يو اړخ ته کينولے شي-

په دريم نمبر باندې هغه کار دے په کوم کښې چې په شرعي لحاظ سره شک او شبه وي، د دليل په لحاظ سره که جائز او نا جائزه معلوم نه وي، د عالِمانو اختلاف وي، هلته شريعت دا لارښودنه اوکړه چې د شک د کارونو نه ځان ساتئ- خوک چې بچ شي، هغه به خپل دين او خپل عزت بچ کړي، يعني نه خو به خلق دې باره کښې وائي چې اوګورئ دا څه کوي او

نه به بخپله د شک ښکار کيږي، داسې به د هغه دين هم بچ پاتې شي، ځکه چې دا خيز په تقویٰ کښې شامل دے-

د دې نه پس بعضې وخت داسې خيزونه راشي، د کومو په باره کښې چې واقعي ده شک کيدے شي چې دا زه اوکړم که اوئې نه کړم؟ د دې کول به صحيح وي او که صحيح به نه وي؟ دواړو اړخونو ته ذهن ځي، اوس په داسې صورت کښې کوم ګس ته اجازت دے چې د خپل زړه نه فتویٰ واخلي، د خپل ضميرنه پوښتنه اوکړي او چاته اجازت نشته؟ د دې څه اهم معيارونه دي- لکه داسې ګس د چا چې حيا ختمه شوې وي او هغه په بدو عملونو زړور وي، په شريعت باندې د عمل کولو ئې هيڅ څه شوق نه وي، نو داسې ګس دې په شرعي چارو کښې هيځکله هم د خپل ضمير نه پوښتنه نه کوي، او کوم ګس چې په شريعت باندې عمل کولو والا وي، د نيکو عملونو سره محبت ساتي، د ګناهونو نه د بچ کيدو ئې پوره ذهن وي او هغه ځان هم ساتي، د نيکو سره ئې محبت وي او هغه نيکۍ هم کوي، بلکه د نيکو سره ئې محبت هم داسې وي چې د نيک عمل سره د هغه زړه ته خوشحالي ميلاويږي، د زړه نورانيت محسوسوي، زړه ئې بخيږي او سکون ورته ميلاويږي، او د هغه د ايمان خوږ والے نصيب وي، نو داسې ګس که چرې په يوه معامله کښې د شک ښکار وي او د هغه ضمير هغه ته دا اووائي چې دا کار اوکړه، په دې کښې هيڅ باک نشته، نو هغه ګس د

زړه خبره منلے شي ځکه چې د هغه ضمير په اعلیٰ او قبول شوې درجه باندې دے- خو داسې [ګَس] لټول ګران کار دے او خپل ځان په دې مرتبه کنړل د خوش فهمۍ په درياب کښې د غوپو وهلو په شان کار دے-

## د زړه ګنهګاريدل

**سوال:** په قرآنِ مجيد کښې يوه جُمله بيان شوې ده چې ''د هغه زړه ګنهګار دے'' او عوامي طور هم دا جمله وئيلے شي- پوښتنه دا ده چې د زړه ګنهګاريدل څه ته وئيلے شي؟

**جواب:** د زړه ګناهونه ډير زيات دي، لکه کفر او شِرک چې دا بنيادي طور باندې د زړه ګناهونه دي، ځکه چې د کُفر معنیٰ ده: د دين په ضرورتونو کښې د يو څيز نه انکار کول او انکار او تصديق دواړه د زړه کارونه دي- ايمان د زړه د تصديق نوم دے او کُفر د زړه انکار ته وئيلے شي، بيا په دې باندې دلالت کوونکي ګنړ شمير کارونه دي، کوم چې کُفَر ګرځولے شوي دي، خو کوم چې اصلي تعريف دے، هغه هم دغه دے چې زړه کښې د تصديق په ځائے انکار بيا موندلے شي-

هم دغه شان شِرک يعني د الله پاک سره څوک شريک ګرځول، په اصل کښې د زړه کار دے چې انسان په زړه کښې څوک د الله سره شريک ګنړي، بيا وروستو د دې مظاهر راځي- داسې منافقت هم د زړه سره وي،

ځکه چې بنده ظاهري طور ټول حرکتونه د مسلمانانو کوي، روژه نیسي، لمونځ کوي، خو په زړه کښې ئې تصدیق موجود نه وي- نو کفر، شِرک او منافقت په آسانۍ سره د زړه د ګناهونو په طور انسان پیژندلے شي-

د دې نه علاوه نور داسې ډیر ګناهونه دي د کومو تعلق چې د زړه سره دے، مثلاً: تکبُّر یعني نور کمتر ګنړل او نور هیڅ نه ګنړل، د زړه کار دے- حسد یعني دا آرمان کول چې د بَل مسلمان نه نعمت لاړ شي- دا آرمان هم په زړه کښې وي، اوس بعضې وخت د دې اظهار اوشي او بعضې وخت صرف په زړه کښې دا خواهش ساتي-

دغه شان ریا هم د زړه عمل دے او یقیناً د زړه نه کیږي چې خلق ما ښه (نیک) اوګنړي، عبادت ګزاره اوګنړي- داسې تَکبُّر، حسد، (د دې ذِکر اوس اوشو)، بغض او کینه هم ګناهونه دي او دا ګناهونه هم د زړه د کارونو نه دي- داسې ګناهونو کوونکي ته به "**د زړه ګنهګار**" وئیلے شي- ځکه په شرعي اصطلاح کښې هم دې ته "امراضِ قلب" وئیلے شي یعني د زړه بیمارۍ/ باطني مرضونه- په حدیث مبارک کښې فرمائیلے شوي دي چې "د بدن دننه یوه ټوټه ده که چرې هغه سمه شي، نو ټول بدن سم شي،

که چرې هغه خرابه شي، نو ټول بدن خراب شي، واورئ هغه زړه دے-“ (8)

نو که چرې د زړه نه حسد، کینه، بغض، تکبر اووځي او په ده کښې اخلاص، صبر، شُکر، توکل، یقین، مُراقبه، مُحاسبه او د الله پاک سره محبت پیدا شي، نو زړه سمیږي- داسې که چرې زړه سم شي، نو ټول اندامونه سم شي او که چرې زړه خراب شي، چې د ده نه اخلاص لاړ شي او ریا ورته دننه شي، د ده نه عاجزي لاړه شي او تکبر ورته دننه شي، د ده نه خیر خواهي لاړه شي او حسد ورته دننه شي، د ده نه دوستي لاړه شي او بغض او کینه ورته دننه شي، نو دا د زړه د خرابیدو علامتونه دي او کله چې زړه خراب شي، نو ټول بدن خراب شي، بیا انسان کارونه هم هغه کوي کوم چې د ریا، تکبر، حسد، بغض او کینې تقاضا کوي-

## د فاسِق تعریف

سوال: فاسِق څه ته وئیلے شي؟

جواب: فاسِق لفظ د فِسق نه جوړ دے، فا، سین، قاف، د فِسق لغوي معنیٰ ده: وَتَل/ بهر وَتَل یا خُروج او په شرعي لحاظ سره د فِسق مطلب دے: د الله پاک د فرمانبردارئ نه بهر وَتَل-

---

...[8]بخاری،کتاب الایمان، باب فضل من استبرألدینہ ،1/ 28، حدیث:52

اوس دلته دوؤ څيزونو ته پام اوکړئ چې د ګناه دوه قِسمونه دي: کبيره او صغيره يعني غټه ګناه او وَړه ګناه- کوم کَس چې غټه ګناه يو ځل هم اوکړي، هغه فاسِق دے، خو چې وړه ګناه بيا بيا کوي، نو بيا فاسِق شي-

ځکه به د فاسِق اطلاق په هغه باندې کيږي څوک چې غټه ګناه اوکړي يا وړه ګناه بيا بيا اوکړي، اوس په دې کښې نور دوه صورتونه دي- فاسِق هغه ګناه په پټه کوي يا ښکاره- که چرې هغه ئې په پټه باندې اوکړي، نو هغه ته به "فاسقِ غير مُعلن" وئيلے شي او که چرې ښکاره ګناه اوکړي نو هغه ته به "فاسقِ مُعلن يا فاجر" وئيلے شي- فاسِقِ مُعلِن يا فاجِر لفظ د دې د پاره استعماليږي-

بيا په يو بَل لحاظ سره د فِسق دوه قِسمونه دي- **وړومبے قِسم:** هغه فِسق د کوم تعلق چې د عقيدې سره دے او **دويم قِسم:** هغه فِسق د کوم تعلق چې د عمل سره وي- په قرآنِ پاک کښې د عملي فِسق هم بيان دے لکه د خنزير غوښه خوړل دې ته فِسق فرمائيلے شوے دے، او د عقيدې د فِسق په قرآنِ پاک کښې ډير زيات بيان دے بلکه زياتره په قرآنِ پاک کښې د فاسِق او فِسق لفظ د عقيدې د فاسِق يا بدې عقيدې په باره کښې بيان کړے شوے دے- ځکه چې د چا عقيده فاسده ده، لکه د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم په زمانه کښې "قَدرِيَّه فِرقه" پيدا شوې وه، کومې چې د تقدير نه انکار کولو او يوه جَبرِيَّه فرقه" راووتله کومې چې به وئيل چې

انسان صِرف مجبوره دے چې هغه هيڅ نشي کولے، په هغه باندې کولے شي- دغه شان ”خارجي فرقه“ د کومې غټه پېژندګلو چې حضرت عبد الله ابن عمر رَضِیَ اللہُ عَنْهُ بيان فرمائيلې وه چې هغوئي به د مشرکانو په باره کښې نازِل شوي آيتونه په مسلمانانو باندې لګول- (9) اوس دا پېژندګلو تر اوسه پورې راروانه ده، اوس هم ډېرو بدو عقيدو والا خارجيان داسې دي کوم چې د بُتانو په باره کښې نازِل شوي آيتونه، په انبيائے کرامو عليهِمُ السّلام او اوليائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم باندې لګوي چې د بُتانو په شان مَعاذَ الله انبيائے کرام او اوليائے کرام هم بے وَسه دي-

دغه شان يوه فِرقه ”معتزِله“ تېره شوې ده کومې چې به د الله پاک په صفتونو کښې عجيبه شان تاويلات کول او د قبر د عذاب نه منکره وه، داسې د قرآنِ پاک په باره کښې د دوئي عقيدې د عامو مسلمانانو نه بدلې وې، د هغوئي په نز کلامُ الله، د الله پاک صفت نه، بلکه مخلوق دے- دا ټولې فاسقُ العقيده فرقې دي، د چا چې عقيده خرابه شوه، کومې چې په عقيده کښې د الله پاک د فرمانبردارئ نه اووتلې-

**د کلام خلاصه** دا ده چې د فِسق لغوي معنیٰ هغه ده چې وَتَل او اصطلاحي معنیٰ د الله پاک د فرمانبردارئ نه بهر وتل، بيا که چرې غټه

...[9] بخارى،كتاب استتابة المرتدين و المعاندين و قتالهم، باب قتل الخوارج والملحدين،16/9

ګناه ئې اوکړه، نو فاسِق او که وړه ګناه ئې بیا بیا اوکړه نو فاسِق، بیا ئې که په پټه اوکړه، نو فاسِقِ غیرِ مُعلن، که ښکاره ئې اوکړه نو فاسقِ معلن یا هغه ته به فاجِر وئیلے شي- وړاندې هغه تقسیم دے چې د عقیدې په لحاظ سره فاسِق دے او که د عمل په لحاظ سره-

## د ګناه په کار کښې د مخلوق د خبرې منلو حکم

سوال: بعضې وخت داسې هم کیږي چې خاؤند، مور پلار یا حکمران، یا استاذان یا افسران د څه داسې خبرې حکم اوکړي، کومه چې د شریعت په لحاظ سره ګناه ده، په داسې صورت کښې څه حکم دے د هغوئي خبره منل به صحیح وي خاص طور که چرې مور پلار یا خاؤند حکم اوکړي؟

جواب: د مخلوق خبره په جائزو کارونو کښې منلے کیږي، ولې په ګناه کښې د هغوئي هیڅ خبره نه منلے کیږي، په حدیث مبارک کښې په واضحه انداز کښې اوفرمائیلے شول چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: "اِنَّمَا الطَّاعَةُ فِي الْمَعْرُوْفِ" یعني اطاعت [تابعداري/ فرمانبرداري] صرف په نیکئ کښې ده- (10)

[10] ... مسلم، کتاب الامارة، باب وجوب طاعة الامراء فی غیر معصیة، ص:789، حدیث:1840(4765)

په يو بَل حديث مبارک کښې ارشاد اوشو: ''لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوْقٍ فِیْ مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ''
يعني د خالِق په نافرمانئ کښې د يو مخلوق فرمانبرداري نشي کيدے۔ (11)

دغه شان په قرآنِ پاک کښې آيت مبارک هم دے چې

| | |
|---|---|
| وَ اِنْ جَاهَدٰكَ عَلٰۤى اَنْ تُشْرِكَ بِیْ مَا لَیْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ۙ فَلَا تُطِعْهُمَا وَ صَاحِبْهُمَا فِی الدُّنْیَا مَعْرُوْفًا ۫ وَّ اتَّبِعْ سَبِیْلَ مَنْ اَنَابَ اِلَیَّ ۚ ثُمَّ اِلَیَّ مَرْجِعُكُمْ فَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۵﴾ (پ 21، لقمان: 15) | ترجمه: او که چرې هغه دواړه په تاسو باندې کوشش اوکړي چې تاسو يو داسې څيز زما سره شريک کړئ د کومې چې تاسو ته پته نه وي، نو د هغوئي خبره مه منئ او په دنيا کښې په ښه طريقه د هغوئي سره اوسئ او زما په لور د رجوع کوونکي انسان په لاره باندې ځئ، بيا هم زما طرف ته تاسو ته راتلل دي نو بيا به زه تاسو ته اووايم څه چې به تاسو کول۔ |

په دې آيت کښې د مور پلار خاص طور ذِکر دے او اوفرمائيلے شو چې که چرې هغوئي تاسو ته د شِرک کولو اووائي، نو بيا د هغوئي خبره مه منئ، خو د دنيا په معامِلو کښې د هغوئي سره ښه سلوک کوئ۔ ځکه که چرې مور پلار د يوې ګناه کولو حکم اوکړي نو عمل دې پرې نه کيږي مثلاً

...[11] المصنف، کتاب السير، باب فی امام السرية يامرهم بالمعصية، 247/18، حديث:34406

که چرې مور پلار د ګیرې پرېښودلو نه منع کړي نو د هغوئي منع کول هم ګناه ده او د هغوئي دا خبره منل هم ګناه ده ځکه چې د ګیرې پرېښودلو حکم نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورکړے دے چې بريت کم کړئ او ګيرې غټې کړئ- (12) نو چې د الله او د رسول عَزَّ و جَلَّ و صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مقابله کښې کومه خبره هم وي هغه به نه منلے کيږي-

## د وَسوَسو بيان

**سوال:** وسوسې ولې راځي، او د دې څه حکم دے؟

**جواب:** د وسوسو راتللو وجه نفس او شيطان دے ځکه چې شيطان د انسان زړه ته د بهر نه وسوسې اچوي، داسې بعضې انسان هم په خپلو خبرو باندې وسوسې اچوي، هم داسې په قرانِ پاک کښې دي:

| | |
|---|---|
| الَّذِيْ يُوَسْوِسُ فِيْ صُدُوْرِ النَّاسِ ۝ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ۝ (پ 30، الناس:6،5) | **ترجمه:** هغه کوم چې د خلقو زړونو ته وسوسې اچوي- په پيريانو او انسانانو کښې- |

يعني وسوسو والا پيرے هم کيدے شي او انسان هم او وسوسه اچول د شيطان په لويو کارونو کښې دي ځکه چې شيطان په بنيادي طور باندې

---

[12]... بخاري، كتاب اللباس، باب اعفاء اللحى، 160/7، حديث:5893

داسې کوي چې خلقو ته د ګناه او ڪُفر وسوسې اچوي- بل طرف ته نفس دے چې د شیطان په شان نفس هم انسان په وسوسو کښې د اخته کولو ذریعه ده او د هغه وسوسو ته ”وساوِسِ نفساني“ وئیلے شي لکه د روژې په میاشت کښې د شیطان د قید کیدو باوجود خلقو ته وسوسې راځي- دا د نفس د طرف نه وي ځکه چې نفس، د شیطان سره د زیاتې رابطې په وجه ډیر زورور شوے وي او د هغه وسوسې هم دغه همره اثرناکه وي، لکه ځنګه چې د شیطان وسوسې- معلومه شوه چې د وسوسو بنیاد شیطان او نفس دے-

## د وسوسو د پیژندلو طریقه

**سوال:** وسوسې به ځنګه پیژندلے شي؟

**جواب:** د وسوسو پیژندلو د پاره دې د امامِ غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کتاب ”منهاجُ العابدین“ اولوستے شي- په دې کتاب کښې امامِ غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دې باندې ډیر ښکلے کلام کړے دے چې د بنده په زړه کښې کوم خیالونه راځي، هغوئي به هغه ځنګه پیژني چې دا رحماني دي او که شیطاني؟ د دې سره سره د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه په رساله ”وسوسے اور ان کا علاج“ کښې هم ډیر ښکلي معلومات موجود دي-

## په وسوسو کښې د ګناه صورت

**سوال:** په زړه کښې چې کومې وسوسې راځي، دا ګناه ده که نه؟

**جواب:** عام طور داسې کيږي چې د انسان په زړه کښې د ګناه صِرف خيال راځي، خو هغه د خپل ځان نه دا خيال لرې کوي، په داسې قِسمه وسوسو باندې ګناه نشته- هسې خو د زړه د خيالونو ډېر قِسمونه دي، په کومو کښې چې دوه دا دي: (1) يوه عزم دے او د عزم مطلب دے پخه اراده، کومې ته چې مونږه "عظمِ مُصَمَّم [پخه اراده]" وايو- په پخه اراده به ګيريدل وي او په دې باندې به ګناه وي- د دې ارادې په ذريعه انسان د ګناه اسباب پوره کوي او د خپل اړخ نه کوشش کوي، اګرچه که هغه په څه وجه ګناه هم اونکړي مثلاً: يو کَس د کور نه د غلا په اراده اووتلو، بيا په څه وجه هغه غلا اونکړه، لکه هلته خلق ويخ وو يا پوليس وو وغيره- نو په داسې حالت کښې به انسان ګنهګار وي، ځکه چې هغه د ګناه پخه اراده کړې وه- معلومه شوه چې پخه اراده چرته بياموندلے شي هلته به ګناه وي- (2) دويم دا دي چې انسان په خپل تصور کښې د بے حيائيئ کار اوکړي، په دې صورت کښې هم بنده ګنهګاريږي-

## د خپلوانو سره ښه سلوک کول

**سوال:** که چرې يو رشته دار وغيره زمونږ سره بَد اوکړي، نو مونږ ته څه کول پکار دي؟

**جواب:** د دې سره تقريباً يو شان پوښتنه د نبيِ کريم صَلَّی اللہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په

بارګاه کښې هم وړاندې کړے شوې وه چې زما خپلوان زما سره ښه سلوک نه کوي، خو زه د هغوئي سره ښه سلوک کووم، نو آیا زه خپل دا ښه عمل جاري اوساتم؟ یعني زه د هغوئي سره صِله رحمي نیک سلوک جاري اوساتم که زه هم بیا د بدلې په طور باندې هغه شان اوکړم؟ نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو چې ته خپل ښه سلوک جاري اوساته، د حدیث لفظونه دا دي: یعني یو کَس عرض اوکړو: یا رسول اللّٰه! صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زما نزدې خپلوان دي، زه د هغوئي سره تعلق ساتم او هغوئي ئې زما سره پرېږدي، زه د هغوئي سره ښېګړه کووم، خو هغوئي زما سره بد کوي، زه د هغوئي سره په صبر سره چلند کووم، خو هغوئي زما سره په جهالت سره چلند کوي- نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: که چرې هم داسې ده، لکه څنګه چې ته وائې، نو ته د هغوئي په خُله کښې ګرمه ایره اچوې او ستا سره به د اللّٰه د طرف نه د هغوئي خلاف یو مددګار [مرسته کوونکے] وي، تر څو پورې چې ته په دې حال ئې- (13) ځکه دې د رشته دار خبرې برداشت کړے شي او خپل ښه سلوک دې جاري اوساتلے شي، بلکه په یو حدیث مبارک کښې صریح حکم دے: ''صِلْ مَنْ قَطَعَكَ'' یعني ته د هغوئي سره خپلولي قائمه اوساته کوم چې ستا

---

...[13] مسلم، کتاب البر والصلة، باب صلة الرحم و تحریم قطیعتها، ص:1062، حدیث:2558(6525)

سره پرېږدي- (14) ځکه چې کوم خپل خپلوي پرېږدي د هغې د قائمولو کوشش دې اوکړے شي-

د بهارِ شريعت د يو عبارت خلاصه ده چې: خپلوان ښه سلوک کوي او مونږه هم د هغوئي سره ښه سلوک کوو، نو دا خو ادله بدله شوه، کومه چې د هر چا سره انسان کوي- صِله رحمي دا ده چې هغه ستا سره [خپلوي] پرېږدي او ته ئې د هغه سره پالې، ستا سره زياتے کوي او ته د هغوئي سره ښيګړه کوې- د صِله رحمۍ په بنيادي مفهوم کښې دا خبره شامِله ده چې که چرې خپلوان زياتے کوي، رَدې بَدې وائي، خپلوي پرېږدي، نو د هغوئي سره دې د ښه سلوک کولو کوشش اوکړے شي- البته دا ضرور ده چې دنيائي حکمتِ عملي انسان له خپلول پکاره ده چې بے وجې خپل ځان د ذِلت ځائے ته هم د وړاندې کولو په ځائے د هغې نه د بچ کيدو صورتونه خپل کړے شي او د خپل طرف نه کوشش کوئ او دا ذهن جوړ کړئ چې زه به د دوئي د پاره د خير دعا کووم، زما په زړه کښې به د دوئي د پاره هم د ښيګړې جذبه وي، زه چې په کوم ځائے کښې دوئي ته خير رسولے شم، نو رسووم به ئې، زه به د دوئي د ظلم بدله په ظلم سره نه ورکووم، د دوئي د کنځلو په جواب کښې به کنځلې نه کووم- آؤ د هغوئي د شر نه د بچ

---

[14]... مسند احمد، مسند الشاميين، حديث عقبه بن عامر الجهنى، 148/6، حديث:17457

کیدو د پاره خپل ځان په لرِه فاصِله باندې ساتئ او وخت په وخت د ښه سلوک معامله کوئ-

## د زړه د ګناهونو بیان

د زړه (باطني) د ګناهونو په شریعت کښې څه اهمیت دے، داسې د زړه د ګناهونو په باره کښې معلومات تر لاسه کول د یو مسلمان د پاره څومره اهم کار دے؟

**جواب:** د ټولو ګناهونو په باره کښې بنیادي حکم هم یو دے، که هغه باطِني وي او که ظاهري وي چې په مختلفو صورتونو کښې به مختلف حکمونه وي، مثلاً ډیر ګناهونه هغه دي د کومو سره چې د انسان واسطه نه راځي، مثلاً د چا مور پلار نشته، نو د مور پلار په باره کښې زیاتره شرعي حکمونه زده کول ضروري نه دي، داسې چې په چا باندې حج فرض نه دے، نو هغه له د حج حکمونه زده کول ضروري نه دي او د حج په وخت د کیدونکو ګناهونو معلومات حاصلول هم ضروري نه دي- دغه شان که یو کَس واده نه دے کړے نو د ښځې او بچو په باره کښې حکمونه زده کول ضروري نه دي-

د دې نه علاوه ډیر ګناهونه واضحه وي، کوم چې ټولو ته معلوم دي، لکه غلا، ظلم، ډاکه، دا هغه ګناهونه دي، د کومو چې ټولو ته پته ده نو د دې

خاص طور علم زده کول ضروري نه دي د دې نه سيوا چې په بعضې ځيزونو کښې نور څه داسې تفصيل کيدے شي د کوم نه چې انسان خبر نه وي او هغه اوکړي- لکه هر چاته پته ده چې غلا ناجائزه او ګناه ده، خو په ځمات کښې چې ئې کله خپل پيزار پټ شي، نو د هغې سره يو شان په هغه ځائے کښې په نظر راتلونکي باندې انسان قياس اوکړي چې غل زما هغه وړے دے او دا ئې پريښودے دے، د غلا فقهي تعريف خو په دې ځائے کښې پوره نه دے، خو بهر حال دا ګناه ده او په يو لحاظ سره غلا ده- داسې په مکه مدينه کښې پيزار بدلول او راوړل هم جائز نه دي-

يو بَل مثال د يتيم د مال خوړلو دے چې دا حرام دے او د دې ټولو ته پته ده، خو د يو ګس د وفات کيدو نه پس د هغه د يتيمانانو ماشومانو د وراثت د مال نه د دريمې وغيره نه نياز [ېخپله] خوړلے، په [بَل چا باندې] خوړلے کيږي- اوس دا د دريمې ختم، د څلويښتئ ختم يوه نفلي صدقه ده او في نفسهٖ دريمه او څلويښتي جائزه ده، د ثواب کار دے، خو د يتيم د مال نه کول نا جائزه او ګناه ده او د دې خوراک د خوړلو يتيم ېخپله هم اجازت نه شي ورکولے، ځکه چې هغه بالغ نه دے او نا بالغه داسې اجازت نه شي ورکولے- اوس چې کوم کس هم د دريمې وغيره دا خوراک کوي، نو هغه به د يتيم د مال د خوړلو ګناه کوي، خو دې طرف ته د خلقو پام نه وي، په

دې مسئله کښې دا عنوان خو معلومېږي چې " د يتيم مال خوړل حرام کار دے" خو د دې تفصيل معلوم نه وي۔

د دې نه علاوه ډير داسې ګناهونه دي د کومو د تفصيل نه بغير چې انسان د هغې نه هډو بچ کيدے نشي، لکه په کاروبار کښې څه خيزونه خو داسې دي، د کومې د ګناه نه چې هر څوک ښه خبر دي، لکه دهوکه کول، دروغ وئيل، خيانت کول، ملاوټ کول دا ټول ناجائزه دي وغيره وغيره۔ خو د دې نه علاوه هم د شريعت ډير زيات حکمونه دي کومو ته چې "عُقودِ فاسِده" وئيلے شي يعني داسې لوظنامې د کومو نه چې په شرعي لحاظ سره څه فساد پيدا شي، هغه تفصيل هر چاته معلوم نه وي، ځکه سوداګر له د سودا په باره کښې مسئلې زده کول ضروري دي۔ که چرې نه ئې زده کوي، نو د نه زده کولو به هم ګناه وي او بيا به د عِلم نه لرلو په وجه نور ډير ګناهونه اوکړي۔

د ګناهونو يو قِسم "باطِني ګناه" هم دے۔ په باطِني ګناهونو کښې 90 فيصده هغه صورتونه دي کوم چې د "ريا" او حُبِّ جاه [يعني د عزت او مشهورتيا سره د محبت] " په وجه کيږي خو د دې په باره کښې د معلوماتو نه لرلو په وجه باندې د دې کوونکو ته د دې په باره کښې هډو پته نه لګي چې زه د ريا يا د عزت او مشهورتيا د محبت په وجه په ګناه کښې اخته کيږم۔ د باطِني ګناهونو په باره کښې د معلوماتو نه لرلو نتيجه دا شي چې انسان

ريا کوي او وائي، زه خو ريا نه کووم يا خلق کمتر ګڼړي او ځان لوئي ګڼړي او وائي چې ورورہ! زه خو تکبُّر نه کووم، هغه خو زما نوکران مَوکران دي ، زما ملازمان، هغوئي خو هم داسې دي- اوس په دې ځائے کښې غرور کوونکے ګس نور خلق سپک ګڼړي، خو هغه ته پته نه وي چې زه غرور کووم، او داسې زه ګناه کووم، اوس د داسې ځيزونو په لحاظ سره د ګناهونو معلومات حاصلول ضروري دي او د دې هم دا طريقه ده چې ديني کتابونه اولوستلے شي، د اهلِسُنَّتو علمائے کرامو كَثَّرَهُمُ اللهُتَعَالىٰ نه د ګناهونو په باره کښې زده کړي او د عِلم حاصلولو چې کومې ذريعې دي، د هغې نه عِلم زده کړي-

## د ګناهونو معلومات حاصلول

**سوال:** د ګناهونو د سرسري معلوماتو حاصلولو په ځائے تفصيلي معلومات څنګه حاصل کړے شي؟

**جواب:** د ډيرو ګناهونو په باره کښې واقعي ده چې تفصيلي عِلم ضروري دے، ګڼې څه ګناهونه داسې دي کوم چې د نيکئ په ګُمان کښې کولے شي- يو څو مثالونه اوګورئ:

**وړومبے مثال:** د شريعت حکم (يعني سُنَّت دا) دے چې نارينه دې د [خپو] ګِيټئ ښکاره ساتي، په دې حکم (سُنَّت) باندې د عمل کولو د پاره

بعضې خلق د لمونځ د پاره شلوار یا پینټ وغیره فولډ کوي [یعني د پرتوګ یا پینټ پینسې اوچتوي] ، کومه چې ګناه ده چې په لمونځ کښې کِیتې پټې پاتې شي، نو مکروهِ تنزهي دي، کومه چې ګناه نه ده، خو په لمونځ کښې پینسې اوچتول، فولډ کول مکروهِ تحریمي دي، کومه چې ګناه ده-

**دویم مثال:** ماشومان جُمات ته بوتلل ښه کار دے، خو دومره واړه ماشومان جُمات ته بوتلل جائز نه دي کوم چې په جُمات کښې تشې یا ډکې میتیازې کوي یا شور کوي او چې معلومه وي چې دا ماشومان به شور کوي، نو د داسې ماشومانو جُمات ته بوتلل ګناه ده- اوس اوګورئ چې بوتلونکي د خپل اړخ نه په ډېره غټه جذبه د نیکئ ګڼړلو سره ماشومان بوتلل، خو د عِلم د کمې په وجه ئې ګناه اوکړله- معلومه شوه چې د دین عِلم زده کول ضروري کار دے او د عِلمِ دین زده کولو بغیر ګزاره نه کیږي او د عمل بنیاد عِلم دے، ځکه عِلم حاصل کړئ د پاره د دې چې د خپل اړخ نه د نیکئ ګڼړلو سره ګناه اونکړئ-

## د ګناه د پاره مرسته کول

**سوال:** د ګناه د پاره مرسته کول څنګه کار دے؟

**جواب:** د ګناه د پاره د مرستي کولو منع په قرآنِ پاک کښي بالکل په واضحه طور موجوده ده۔ الله پاک اوفرمائيل:

| | |
|---|---|
| وَ تَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَ التَّقْوٰى ۪ وَ لَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْاِثْمِ وَ الْعُدْوَانِ ۪ (پ 6، المائدة:2) | **ترجمه:** او په نيکئ او پرهيزګارئ باندي د يو بَل مرسته کوئ او په ګناه او زياتي باندي د يو بَل مرسته مه کوئ۔ |

د قرآنِ پاک نصِ قطعي موجود دے چي په ګناه سره د يو بَل د مرستي کولو اجازت نشته، بلکه حکم دا دے چي د ګناه نه منع کړے شي۔ دي باره کښي يو ډير ښکلے حديث مبارک دے۔ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ”اُنْصُرْ اَخَاكَ ظَالِمًا اَوْ مَظْلُوْمًا“ يعني د خپل ورور مرسته کوئ که هغه ظالِم وي او که مظلوم، صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د مظلوم خو به مونږه مرسته اوکړو، خو آيا د ظالِم مرسته هم اوکړو؟ اوئې فرمائيل: آؤ! او د ظالِم مرسته دا ده چي تاسو هغه د ظُلم نه منع کړئ۔ (15) دا د ظالِم مرسته داسي ده چي د هغه د آخِرت د پاره ګټه وره ده۔ نو د ګنهګار مرسته دا ده چي هغه د ګناه نه منع کړے شي۔ د دي نه هغه خلقو له سبق اخستل پکار دي، کوم چي د

[15]...بخاری، کتاب المظالم، باب اعن اخاک ظالما او مظلوما، 128/3، حديث:2443

دوستئ يارئ پاللو د پاره په ګناه کښې د يو بَل مرسته کوي او د خپل ځان سره دا ګنړي چې د دوستئ حق ادا کووم- الله پاک دې مونږه ټول د هر قِسمه ظاهري او باطِني مرضونو او ګناهونو نه بچ کړي، مونږ دې نيکان جوړ کړي او په نيکو دې زمونږه استقامت نصيب کړي-

آمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیک او لمونځ ګزاره جوړیدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائسته کښې کیدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنّتونو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره توله شپه تیروئ ✿ د سُنّتو د تربیّت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ✿ هره ورځ د **"فِکرِ مَدینه"** په ذریعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ښائسته ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: **"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي."** اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په **"مَدَني انعاماتو"** عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار **"مَدَني قافِلو"** کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدینه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com